
استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی
سه شنبه ۱۹دسمبر ۲۰۲۳

# د احمد شاه بابا دیوان




**دیارلسمه برخه**

احمد شاه بابا د انسان دغه درونډ د مسئولیت بار، په داسي ډول ښیي:

څه ضعیف تن یې "احمده""

حیران ستا و درانه بار ته

بل ځای د دغه درانه ورى په اخیستولو پورى سخت حیران دي:

څه درونډ بار د امانت دي

زه به څه پرې "احمد شاه" کړم

( دا په زړه کي ولرى، چه د اسلام ځنو مفسرینو د امانت تفسیر په سلطنت هم کړى دي، نو که په دوهم بیت کي احمد شاه بابا، د دغه لوى اجتماعي مسئولیت ذکر کړى وي، لیرى نه ده)

**د انسان اصل**

انسان فقط له مادي او د مادې له مظاهرو څخه مرکب نه دي، يو روحانی مقام هم لري، چه احمد شاه بابا ئې داسی ستايي:

دا ځما د صورت ختېه
که څلور عنصره واخلې
په څلور عنصره پټه
پخپل څير ده دا کټ مټه

کله کله متصوفين دغه روحانی مقام وطن بولی او په ياد ئې ژاړي، احمد شاه بابا د دغه معنوی مقام ياد داسي کوي:

اروا طوطی دی وطن به مومي
بيا که دی مات د نفس قفس کړم
نه پوهيږم زړه ځما د کوم وطن وو
د يار ميني بيګانه له خپله کور کړم
چه د روح په رڼا ورک سوم
ځکه ما ليدلی يار و
احمد اوس که يک تنها شوې
ستا وطن د يار کنار و

**احسن تقويم**

دا هغه مسئله ده چه په (ان الله خلق آدم على صورته) کي څرګنده شوې ده، احمد شاه بابا وايی:

پخپل خم دي "احمد" رنګ کړ
ځکه سو هسي مشهوره

يا:

څه عجب دي د خپل حسن په خم رنګ کړ
په عالم دي ښکاره کړی دا خميان ستا

**کاته او نظر**

صوفيه دنيا او ماده د قدرت مظاهر ګڼي، نو هر کله له مظهره د مظهر قدرت ويني، دا تدقيق او نظر د عرفان اساس دي:

چشمی داری و عالم در نظر است

دیگر چه معلم و کتابت باید

خوشحال خان خټک ويلي دي:

که دي سترګي د عرفان شته مبارک شه

د ګلزار په ننداره چه استقلال کړې

احمد شاه بابا هم دغه تدقيق او نظر لري لکه چه وايي:

زه چه تل نظر دا هسي لور پر لور کړم

په هر لوري د خپل زړه صيقل بيا نور کړم

**مثبت تصوف**

نوربيا